لیکوال: سراج الحق ببرک زی ځدران
۲۰۲۰/۰۴/۱۰

د یوه هیوادپال افغان لخوا د پاکستان لومړنی وزیر اعظم لیاقت علي وژنه؛ د ډیورنډ کربنې کړکیچ او افغان ولس ته د ناموس سپکاوي قضیه

ځلورمه او ورستۍ برخه

د پاکستان لومړۍ وزیر لیاقت علي د وژل کیدو اصلي انګېزه او موخه څه وه ؟

د جنایي جرمونو په کریمینالستیکي پلټنو او څېړنو کې اکثراً د یو سړی د وژنې هڅونه او انګېزه د قاتل او مقتول ترمنځ په اړیکو کې پلټل کیږي. د لیاقت علي په سیاسي وژنه کې د قاتل او مقتول ترمنځ سیاسي انګیزه او سیاسي اړیکه د پښتون پښتون تر منځ د ډیورنډ استعماري کربنه او افغان ولس ته د ناموس سپکاوي په دایره کې پلټل کیدای شي. د پاکستان صدراعظم په خپلو ویناوو کې څو ځلي افغانستان ته او افغان ولس ته د افغانستان او پاکستان د کړکیچنو حالاتو له امله سپکاوي کړی وه. د همدې سیاسي سپکاوي له امله دغه سیاسي وژنکي پېښه رامنځته شوه.

د دې ادعا ثبوت دا هم دی، چې د پاکستان لومړنۍ صدراعظم لیاقت علي د وینا په مهال د پېښې په سترهٔ غونډه کې مخامخ د سید اکبر ببرک زی د تومانچي په ډوز وژل کیږي. مخکې تر دې چې په دې سیاسي قضیه باندې لږ نوره رڼا وچلول شي. لومړی باید د سید اکبر خان د شخصیت پېژندنه وشي او د وژنې انګیزه په لاندې دریو ټکو کې تر یوه بریده تشریح کیدای شي. د سید اکبر خان کورني روزنې او کورنۍ سیاسي چاپېریال ته په کتو سره د هغه د وژنې اصلي انګیزې او موخې ترینه راڅرګندې شي.

لومړی، د هغه روحي رواني حالت، دویم د هغه مذهبي احساسات او دریم ایا هغه دا سیاسي وژنه د استخباراتي کړیو په دستور یا لمڅون د پیسو ترلاسه کولو لپاره لکه څنګه چې پاکستاني رسنۍ ادعا لري ترسره کړې ده.

سید اکبر خان په ماشوماتوب کې د خپلو نورو وروڼو سره په خپل کلیوالي کورنۍ پښتني چاپېریال کې د مولوي عالم شاه څخه دیني زده کړې او ځانګړې ښوونه روزنه ترلاسه کړې وه. په ورځنۍ ژوند کې سید اکبر ببرک زی یو منځلاري مذهبي انسان وه. هغه روژه نیوله، پېنځه وخت لمونځ ادا کولو، د قرانکریم تلاوت کولو او د خپل وس ذکات هم ورکولو. هغه به تل د ایبټ اباد له مولویانو سره ناسته پاسته هم درلودله.

هغه خپل زوی دلارو خان ببرک زی په ببټ اباد کې یوه مدرن ښوونځي کې شامل کړی وه. کله نا کله له خپل کوچنی زوی سره د ایبټ اباد ښارګوټي په کولتوري محفلونو کې هم برخه اخیستله. کله چې پاکستاني پولیسو د قتل پېښې ورسته د هغه کور تلاشي کړو، د کډوالي په لومړیو درېو کلونو کې د هغه په کور کې د قرانکریم دوې نسخې، د مولانا جلال الدین رومي مثنوي، د اعلامه اقبال لاهوري څو کتابونه او د نورو نوموتي پوهانو، سیاسي ادبي لیکنې او کتابونه د پاکستان پولیسو لاس ته ورغلل. د همدې لیکنې په دویمه برخه کې د پېښې یوه عینی شاهد سلمان نثار د لیاقت علی د وژنې حقیقي داستان کې د سید اکبر په اړه لیکي؛ کله چې هغه د سید اکبر ببرک زی سره په غونډه کې د پېښې

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

څخه څو شيبې مخکې خبرې اترې وکړې، عيني شاهد سلمان نثار ليکي، ما په هغه کې ډير ژر يو ډير مينه ناکه مخلص، صميمي او د افهام تفهيم وړ سړی موند.

له دې لږ شواهدو څخه داسې انګيرل کيږي، چې سيد اکبر خان په کافي اندازه ديني زده کړه درلوده او دنياوي پوهه درلوده، په خبرو اترو کې انسانی کرامت، صميميت او ادب مراعتولي شو. له دې کبله ظاهراً په هغه کې د روحي او رواني اړخه هيڅ داسې څه نه ښکاريږي، څو د هغه رواني حالت تر پوښتنې لاندې راوستل شي.

پوښتنه دا ده چې د سيد اکبر خان ببرک زی د قتل انګيزه د بهرنيو استخباراتو لخوا يو لمڅونکی دستوری سياسي قتل وه، که دا د هغه خپل يو خپل ذاتي انفرادي بيرنی غبرګوني عمل وه؟

بله بنسټيزه پوښتنه دا ده، ولې د پېښې په ځای کې سيدا کبر خان ونه نيول شو؟ ولې دی سمدستي د پوليسو انسپکټر محمد شاه د رسمي تومانچي له خوا په پينځه ډزې ووژل شو ؟

کله چې د ګوليو غږ واوريدل شو، نجف خان په پښتو ژبه غږ يا خبرې وکړې، د همدې پښتو ژبې کارولو له امله پاکستاني سياستوال، ليکوال او څېړنوال پوښتنه کوي، چې آيا نجف خان پوهيده چې قاتل يو افغان دی ؟ بيا پوښتنه کوي چې انسپکتر محمد شاه د سيد اکبر ببرک زی ووژنکي هم په پښتو خبرې کولې شوی.

نجف خان د ګوليو ويشتلو په اور په کې په بيرني حالت کې په پښتو ژبه غږ کوي او وايي : هغه وواژنئ، انسپکټر محمد شاه د نجف خان په امر تومانچه راويستله او پېنځه ګولې سيد اکبر وويشتلو او د قتل په محل کې په ډيره بې رحمي سره ځای په ځای ووژل کيږي. د سيد اکبر قاتل هم په پښتو ژبه پوهيدو او خبرې کولې شوی. د پاکستان د قتل د پلټنو پوليس پوښتنه کوي، چې ولې نجف خان په پښتو ژبه د سيد اکبر د وژلو امر ورکړو. نجف خان په داسې يوه شيبه کې په پښتو خبرې کړي، کله چې هغه په ستيج کې ولاړ و او ډزې پيل کيږي، هغه په دې وژونکي حالت کې خپله مورني ژبه پښتو کاروي. پنجابي مضر او منافق ليکوال او جنايي پلټونکي په دغه بيرني وژونکي حالت کې د هغه پښتو ژبې کارولو ته د شک په سترګه ګوري او له هغه نه د اوردو ژبې ويلو تمه لري.

هغمهال د اوردو ژبه په پاکستان کې د ټولو پاکستانيانو لخوا يوه رسمي ژبه نه پېژندل کيده. نجف خان به خامخا په داسې يو بيرني وژنونکي حالت کې په خپله مورني ژبه پښتو خبرې کوي. دا د تور د ثبوت لپاره هيڅ ثبوت نه شي کيدای، څو دوی په وژونکي پېښه کې د نجف خان لاس لرلو ته لاره خلاصه کړي.

د پېښې پلټلو په يوه راپور کې راغلي دي، په دريځ کې لومړني کس د لومړی وزير لياقت علی ژغورنې ته چې ورنږدې شو، هغه د راولپېنډۍ انګريز ډپټی کمشنر جمېز هارډی وه.

د پوليسو مشر نجف خان د پېښې په اړه په خپله خبرپانه کې ويلې دي. هغه په دريځ کې د وزېر اعظم شا ته ولاړ وه، کله چې پر هغه باندې ډزې وشوې، د ډزو د وېرې له امله نجف خان سمدلاسه پر سيد اکبر د ډزو کولو امر ورکړو.

د پاکستان څارنوالي لپاره تر ټولو مهم شاهد د پوليسو افسر محمد شاه دی. څوک چې ادعا لري سيد اکبر خان ببرک زی وژلې دی. هغه وايي، دی د دربار لسو مترو په واټن کې ولاړ و. څارنوال وايي، ښايي دا واټن د دری څخه تر څلورو مترو پورې وي. کله چې سيد اکبر خپل دريم ډز وويشت، له هغه ورسته شاهد خپله تومانچه راوايستله په سيد اکبر خان باندې پېنځه ډزې وکړې، چې له امله د هغه مړينه يقيني کړل شوه. شاهد دا هم ومنله چې دا مهال د پېښې په ځای کې يو ستر شورماشور، مخشوشونکي ګډوډي پېښه شوه، ټول خلک په دې ګډوډبو کې ډوب شول. له دې سره دا خبر سمه روښانه نه شوه، چې محمد شاه څنګه په دې وتوانيدو، چې په څو ثانيو کې ځان د بريدګر د وژنې لپاره چمتو کړي.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

نویارک ټایمز د وژونکي جرمي پیښې په اړه بیا لیکي: په دې پیښه کې یو ډیر عجیب او حیرانوونکي ناندریزه حقیقت پروت دی. هغه دا چې د لیاقت علي وژونکي سید اکبر د لومړي کتار په چوکۍ کې کیناستل دی، چیر ته چې هغه ناست وه، هغه چوکي د سي ای ډي یا د پولیسو مامورینو او ځانګړو میلمنو لپاره ریزف شوي وې. په کوم ځای کې سیدا کبر خان ناست وه، هغه ځای تر ټولو ښه ځای وه، چې لیاقت علی په ډیره ښه توګه ترینه ویشتل کیدای شو.

پوښتنه دا ده چې سید اکبر خان د خپل یوولس کلن زوی سره ستیج ته مخامخ په لومړي کتار کې څنګه ناست وه؟ دا لومړي کتار د مسلم لیک ۱۳ غړو لپاره هم ځانګړي شوي و

که سید اکبر غوندې ته رسماً رابلل شوي نه و، بیا څنګه هغه په دې ستره مهمه رابلل شوي غونډه کې د سي آی ډي پولیسو او استخباراتي چارواکو لخوا ونه پیژندل شو.؟

هو؛ که سید اکبر خان ببرک زی ژوندي نیولي شوای وای، اوس به ټولې تېوریکي توطیې دسیسې به شتون نه درلودې. د اتل سیدا کبر خان وژنې سره سم د هغه د قتل موخې، انګیزې، اسرار او رازونه د خاورې سره خورو ته وسپارل شول. له دې امله د پاکستاني سیاسي رسنۍ تیوریکي توطیو ته او له فنتزیو ډکې پوروپاګنډې ته لاره خلاصه شوه.

د پاکستان لومړني صدراعظم لیاقت علي وژل کیدلو اصلي علت او د انګېزې راز د یوه هیوادپال ننګیالی افغان په ذاتي ببرنۍ غیرتي انفرادي غبرګون کې نغښتي وه.

سیاسي وژنه د سیاسي دلایلو له مخې په قصدي، غیر قانوني او نامشروع توګه د یو چا وژنې ته ویل کیږي. د وژونکي له انده، قرباني کیدونکی شخص معمولاً یو نه منل کیدونکی سیاسي اغېز پر خلکو لري او وژونکي تمه لري، چې هغه وژنه به د ده لپاره ګټوره پریوځي.

پوښتنه دا ده، ایا دغه سیاسي وژنه د سید اکبر خان ببرک زی خپله ذاتي شخصي انفرادي پریکړه و؟

پاکستاني رسنۍ کله هم د لیاقت علي وژنه د یو شخص انفرادي جرم په توګه نه ده پیژندلي، له دې سره ډیرې بې شمېره پوښتنې راولاړې شوي دي.

د اوردو ژبې لاپ اخبار په حوله، صدراعظم لیاقت علی له هند څخه ۵۰۰۰۰۰ کلداري رشوت یا بډې واخیستلې، څو له کشمیر څخه خپل لښکر ته د شاتګ امر ورکړي. تر دې امر ورسته د پاکستان لومړني وزیراعظم لیاقت خپل قوقونه او ملېشه یې ځواکونه شمالي وزیرستان میرانشاه ته ولیږل او ورسره سید اکبر خان ببرک زی ته یې دا بلنه ورکړه، څو په وزیرستان کې د پاکستاني ځواکونو مشري په غاړه واخلي، ځکه دوی ته دا پته وه، چې د ببرک خان ځدرانِ کورنۍ په لویه پکتیا کې یوه ډیر مخوره او د پښتنو په قبیلو کې یوه مطرحه کورنۍ پیژندل کیده. پاکستاني واکدارنو فکر کولو، د دې مروري کډوالي کورنې له لارې کولي شي د افغانستان لپاره یو سر خوږی جوړ کړي، خو کله چې د وزېر اعظم لیاقت علی دا بلنه شهید سید اکبر خان ته ورسیده، هغه انکار وکړ، ځکه چې ده له خپل هیواد او خپلو خلکو سره دومره مېنه درلوده، چې د پردیو په لمسون د پردیو له پاره جنګیدل ورته بې ننګي د لوی شرم خبره وه.

په ۱۹۴۷ کال کې کله چې پاکستان د یوه انګریزي پلاره او یوې هندوې مور څخه وزېږیدو سمدلاسه له یوې خوا د هندوستان سره د کشمېر په لانجه کې او له بلې خوا افغانستان د پښتونستان مسئلې په مطرح کولو سره د دواړو تاریخي ګاونډیو هیوادونو ترمنځ په کړکیچ کې راګیر شو. هممهاله پاکستان د هندوستان ضد او د افغانستان خلاف خپل پښتون افغان ضد پروپاګنډې او تخریبات پیل کړل.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په ۱۹۵۰ او ۱۹۵۱ کلونو کې افغانستان په نړۍ کې او د ملګرو ملتونو په ټولوعمومي غونډو کې یوازېنې دولت وه، چې د پاکستان شتون نه منلو او د پاکستان په رسمیت نه پېژندلو باندې هم ټینګار کولو. دا انکار یوازې او یوازې د ډیورند استعماري کرښې له امله وه. د دې سیاسي ډیپلوماټیک فشار او احتجاج له لارې افغان سیاسي واکمنوغوښتل، څو خپل پښتانه وروړنه بیرته په لوی افغانستان کې سره یو ځای کړي. په ۱۹۴۹ کا ل کې دا مالومات د پاکستان د هغه مهال د ډایجست د مجلې مدیر عاله الطاف حسین چاپ کړي وه.

پاکستاني انګریزي پوځي استعماري اشتبلیشمنټ هغمهال د سید اکبر ببرک زی ځدرانِ څخه داسي تمه لرله، لکه څنګه چې د شوروي اتحاد ضد جهاد پر مهال د افغان مجاهدینو له مشرانو څخه په پیښور کې درلوده، د افغان مجاهدینو غلام صفته سر ټیټي مشرانو د پنجابي پوځي اشتبلشمنټ ناروا موخو او لاسوهنو ته هیڅکله او هیڅ وخت غبرګون نه دی ښودلی.

له همدې امله د لیاقت علي په مشرۍ د پاکستان نوې حکومت سید اکبر خان ببرک زی ته په دې مهمه غونډه کې د ګډون لپاره بلنلیک استولی وه او سید اکبر خان ببرک زی د پاکستان حکومتي لوړ پوړو چارواکو سره ستیج ته مخامخ په لومړۍ کتار کې کینولي شوې وه. کله چې لیاقت علي دریځ ته وخوت او د افغانستان او افغان ولس توهین او سپکاوي د برادرانو ملت په ویلو سره پیل کړو.

سید اکبر خان د بلنلیک له امله خپل یوولس کلن زوی دلاور خان ببرک زی هم غونډې ته له ځانه بیولي وه. زوی د هغه په څنګ کې ناست وه. سید اکبر خان ببرک زی خپل زوی ته مخ وروړولو، هغه ته یې وویل، زویه! زه ناست یم او زما په مخ کې د زما د وطن سپکاوي او بې عزتي کیږي، چې دا زما لپاره د منلو وړ نه ده. زویه ! ته ورخطا نشي، زه ځواب ورکوم.

د سید اکبر خان ببرک زی تومانچي خپل قانوني جواز یا لایسنس درلوده. سید اکبر خان ته او د هغه دووه ورونو ته په ایبټ اباد کې د برتانوی هند حکومت لخوا د پښتنو دود او دستور مطابق ,,پښتانه مشرانو له ځانه سره وسله ګرځوله,, دوی ته د ځان ساتنې لپاره یوه یوه تومانچه او توپکه سره د قانوني جواز سره ورکړل شوې وو.

سید اکبر ببرک زی هماغه خپله ۹ میلي مترە جواز یا لایسنس لرونکي تومانچه له خپل څنګه راویسته او لیاقت علي باندې ډزې وکړې، لومړۍ ډز د صدراعظم پر سینه ولګید او دویم ډز یې په تندې ولګید.

په ۱۹۴۷ کال کې د اګست په شپاړسمه نېټه د یوه ننګیالی او توریالی افغان لخوا په کډوالي او جلاوطنۍ کې د پښتو او پښتونولي د اصولو په چوکاټ کې د خپل افغاني ننګ او غیرت ادا کولو لپاره په خپل ګران وطن او ویاړلي ولس باندې ننګ او غیرت وکړو، کله چې د پاکستان لومړنۍ وزیر اعظم لیاقت علي د هغه د ګران هیواد او ویاړلي ولس په توهینولو او سپکاوي باندې پیل وکړو، هغه یې په ګولۍ وویښت او له ستیج ښکته راوغورځولو. له دې امله په ټول پاکستان کې څه باندې پنځوس کاله په شپاړلسم د ا کتوبر د لیاقت علي وژنې له امله عمومي رخصتي وه.

د انګریزانو په اوخور کې لوی شوي سر زوري منافق افغان پښتون دښمنه وزیر اعظم لیاقت علي د افغانستان سره د دوښمنۍ سیاست لرلو له امله هغه تل په خپلو ویناوو کې د افغان شاهي دولت، افغان ولس او د افغانستان ضد خبرې کولې. لومړي وزیر لیاقت علی به تل په خپلو ویناوو کې د افغانستان حکومت او افغان ملت ضد له سپکو سپورو ډکې ویناوې کولې. همدې زهرجنو خبرو اترو او له توهین او سپکاوي ډکې سیاسي ویناوې د ننګیالی افغان سید اکبر خان ببرک زی ځدرانِ ننګ او غیرت او پښتنه وینه په جوش کې راوسته او هغه په یوه ښه فرصت او بیړني غبرګوني حالت کې دې منافق مکار پنجابي دښمن ته د سلګونو زرو خلکو په منځ کې په ډګر د ګولیو په خوله ځواب ورکړو.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

له وزېر اعظم لياقت علي سره د شهيد سيد اکبر خان ببرک زی مخالفت هم له همدې ځايه پيليږي، چې بالاخره دا مخالفت د لياقت علي په وژل کيدو او د هيواد پال سيد اکبر خان ببرک زی په شهادت پاي ته رسيږي.

پاکستاني سياسي چارواکو، استخباراتي او سي اي دي پوليسو داسي فکر او اتکل کولو، چې سيد اکبر خان ببرک زی د څو کلونو راهيسې دلته په نوی جوړشوي پاکستان کي د افغان شاهي دولت يو ناراضي او مخالف سړی دی. له دې امله هغه ته ليواله شوي وه، څو هغه د افغانستان ضد نوی سياست کي وکاروي او هر څه چې سيد اکبر ببرک زی ته ويل کيږي؛هغه به مني او خپل لاسونه به ورته پرکوي او د پنجابي پوځيانو د ګټو لپاره به د افغان ولس هر دول سپکاوی به هم ورسره زغمي. لکه په افغانستان کي د پخواني شوروي اتحاد يرغل او جهاد پر مهال، کله چې پنجابي جنرالانو او استخباراتي مامورينو د افغانستان د تباهی پلانونه جوړول، افغان جهادی مشرانو به ورته له خوښي مړه کيدل. دا ځکه چې د واک په دې ليونيو کي نه پښتو او نه ايمان او نه حب الوطن من الايمان شتون درلود.

کله چې د شهيد سيد اکبر خان ببرک زی د شهادت خبر کابل ته ورسيد، د افغان شاهي دولت له خوا د سيد اکبر کورنۍ ته خبر ورکړل شو، چې دوی په جوماتونو کي د سيد اکبر خان خان فاتحه نه شي اخيستلای، همدارنګه د هيواد ټولو رسنيو ته خبر ورکړل شوي وه، په خپلو خپرونو او خبرپاڼو کي د شهيد سيد اکبر خان د شهادت خبرونه خپاره نه کړئ. د يو مېرنۍ غرتمن افغان د شهادت په اړه د افغان شاهي دولت غبرګون تر ټولو خواشينونکی و. چا چې خپل ځان د افغان ولس او خپل پلارنۍ هيواد افغانستان لپاره په يوه تصور نه کيدونکي غبرګون کي قربان کړو.

تر اوسه هيڅ يوه افغان دولت رسماً د خپل ملي اتل شهيد د سيد اکبر خان ببرک زی ځدرانِ د قبر يا زيارت ځاي پوښتنه پنجابي يا پاکستاني چارواکو څخه ونه کړه، چې چيرې مو خاور ته سپارلي دی ؟

د لياقت علی وژل کيدو پر مهال د سيد اکبر خان ببرک زی سره خپل يوولس کلن زوی هم شتون درلود. په غونډه کي د ګډوډيو او اله ګوله پر مهال هغه د پيښې له سيمې څخه په پښډی کي يوه نړدی جومات ته پناه يوړله. په هماغه شپه يوولس کلن ماشوم لاور خان په جومات کي نيول کيږي او پاکستاني ظالم رياست يو بې ګناه يوولس کلن ماشوم نهه کاله په زندان کي وساتلو.

د وژنې په هماغه لومړۍ شپه د سيد اکبر مشر ورور نايب سالار زمرک خان ببرک زی هم په خپل کور کي د وسلو زيرمې درلودلو او د وژنې پلانونکي په تور نيول کيږي. هغه پاکستاني پوليسو د پښډی ټانې ته د پلټنو پوښتنو او ګروپځنو لپاره له ځانه سره يوړول کيږي. نايب سلار زمرک خان بيا سمدلاسه د پوليسو لخوا د پښډی روغتون سړي خوني ته وړل کيږي. چير ته چې د شهيد سيد اکبر خان ببرک زی مړی يا جسد ساتل کيده او يو سپين څادر پرې غوړيدلي وه، د پوليسو مشر افسر د مړی څخه څادر پورته کوي او د نايب سلار زمرک خان څخه پوښتنه کوي، چې دا څوک دی، نايب سلار ور ته وويل، دا زما ورور سيد اکبر خان دی، د پوليسو مشر جنرال افسر بيا پوښتنه وکړه، چې هغه ولي لياقت علي وواژه؟ زمرک خان په ځواب کي ورته وويلي وه، چې سيد اکبر خان به مو نه وژلي او دا پوښتنه به مو له هغه نه په خپله کړی واي، زه پرې څه خبر يم، د دې پوښتنو او پلټنو ورسته نايب سالار زمرک خان دري کاله د پښډی ښار په يوه کور کي نظر بند وساتل شو. دري کاله ورسته بيرته ايبټ اباد ته خپل استوګنځی ته خوشي کړل شو.

نايب سلار په داسي وخت کي خپل کور ته راغي، چې د پښډی د پلټنو پوليس د دې سياسي وژونکي قضيي پايلي ته رسيدلي وه، چې سيد اکبر خان ته د هيڅا لخوا دستور نه دی ورکړل شوی او نه يې د چا په لمځون او پيسو لپاره دا وژنه تر سره کړی ده، دغه عمل د ده خپله يوه شخصي انفرادي پريکړه وه، چې په يوه ډير ځانګړي حساس بيرنۍ او فوري حالت کي هغه دغه عمل تر سره کړو.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د شهید ولسمشر محمد داوود خان لخوا د شهید ببرک زی کورنۍ د پخلا کولو هڅې

په ۱۹۷۶ کال کې شهید محمد داوود خان د ذولفقار علي بوټو په بلنه پاکستان ته سفر وکړو، دواړو مشرانو د ډیورنډ کربنې مسئلې د هواریٔ په اړه د خبرو اترو او سوله ییز حلالار وړاندیز وکړو. شهید محمد داوود خان په سیمه کې یو وتلی عملي افغان سیاستوال سړی و، هغه ته دا مهال داسي ښکاریده، چې وسمهال د نړیٔ سیاست دغې نړیوالې مسئلې حل په اړه مثبت نه را څرخي او ورسره نړیوال ملاتړ یې ډیر کمزوریٔ دی.

دغې هیواد پال او ملتپال غیرتي شهید ولسمشر د اسلام اباد په سفر کې له شاهی دولت څخه مرور مشر زمرک خان ببرک زی د ملي خپلواکیٔ اتل غازی ببرک ځان ځدرانۍ له زوی سره ولیدل. شهید محمد داوود خان د نایب سالار زمرک خان او دغه زوی خلیل خان ببرک زی سره په اسلام اباد کې ولیدل. د دې لیدنې بندوبس په اسلام اباد کې افغان سفیر نوراحمد اعتمادي نیولي وه.

شهید محمد داوود خان، نایب سالار ته وویل؛ زه تاسو ته د یو دولتی فرمان له مخې کابل ته بلنه درکوم، څو خپل هیواد ته راشئ، او هلته به له ما سره د چارو په ښه پرمخ بیولو کې مرسته کوئ. د دې ورتګ، لیدنې او خبرو اترو ورسته شهید محمد داوود خان د نایب سالار زمرک خان لپاره کابل ته د بیرته راتګ لاره هواره کړه، که څه هم نایب سالار زمرک خان خپل هیواد ته د تللو کومه اراده نه درلوده، خو د خپل میړنې غیرتمن ولسمشر خبره یې ومنله، زمرک خان د مشر له لیدنې کتنې سره سم د تیاریٔ په حال کې و، چې په کابل کې د غویې کودتاه وشوله. په پاکستان کې له زمرک ځان سره د شهید محمد داوود خان لیدل کتل څه عادي خبره نه وه. د نایب سالار زمرک خان سره لیده کاته او د هغه بیرته راتګ په اړه مخکې له مخکې د ولسمشر محمد داود خان حکومت لخوا ډیر کار ترسره شوې وه.

د نایب سالار زمرک خان زوم ډاکټر محمد فرید خان داوړ د نایب سالار زمرک خان په استازیتوب د ولسمشر محمد داوود خان له حکومتي چارواکو سره په کابل کې څو ځله خبرې اترې تر سره کړې وې. نایب سالار زمرک خان په شمالي وزېرستان کې د داوړ قبیلې له مشرانو سره د خپلوي او خپینۍ د بدل ریښتې هم درلودې.

په ایرلنډ هیواد کې د جراحي عملیاتو سر صبیب ښاغلي ډاکټر محمد فرید خان داوړ، ما ته (لیکوال) ته په خپله په یوه ناسته کې داسي ویلي دي، چې دی خپله ډاکټر محمد فرید خان داوړ د خپل خسر او د خپلې خور خسر نایب سلار زمرک خان د بیرته تګ لپاره څو ځلي په غیر رسمي توګه کابل ته تللي وه، څو د ولسمشر محمد داود خان د حکومت له مشرانو سره د نایب سالار زمرک خان د بیرته راتګ لارو چارو او شرایطو باندې خبرې اترې وکړي. د همدې اړیکو په بنسټ د ولسمشر محمد داود خان او نایب سالار زمرک خان ترمنځ په اسلام اباد کې لیدنه تر سره شوه.

د دې پېښې ورسته د شهید سید اکبر ببرک زی یوولس کلن زوی نهه کاله د پاکستان په زندان کې تیرل، له بند ورسته پاکستانی چارواکو هغه یې لاس تړلي د تورخم په دروازه کې افغان چارواکو ته ورتسلیم کړ، همدارنګه افغاني چارواکو هم لاس تړلی د کورنیو چارو وزارت ته راوست او هلته یې بندی کړو. هغه بیا د خپل تره د ولسي جرګې وکیل صیب شیر محمد خان ببرک زی د سخت احتجاج له امله خوشي کړل شو، کله چې مشر دا پوښتنه راپورته کړه، چې تاسو زما وراره دلاور خان په کوم جرم په بند کې ساتلي کیږي ؟.

د پېنډیٔ سترې سیاسي غوندې ته د سید اکبر خان ببرک زی سره د هغه یوولس کلن زوی تلل دا په خپله دا ثابتوي، چې هغه غونډې ته وربلل شوې وه. کله چې یو څوک د کوم بهرني هیواد استخباراتي کړی څخه د یو سیاسی دستوري پلان شوي قتل لپاره پیسې ترلاسه کوي، هغه هیڅکله خپل یوولس کلنه زوی د وژنې ځای ته له ځانه سره نه بیایي. د لیاقت علي وژنه کومه ساده وژنه نه وه. لکه څنګه چې پاکستاني رسنیٔ او چارواکي ادعا لري، چې دا وژنه یوه دستوري لمڅونکي سیاسي پلان شوي وژنه وه، د دوی لپاره دا ثبوت کافي دی، چې هیڅکله یو ساده یا پروفیشنل حرفوي قاتل

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاریٔ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

انسان دي ته نه چمتو کيږي، چې خپل يوولس کلن زوی د يوې داسي نړيوالي سياسي پيسې ځای ته له ځانه سره يوسي، چيرې چې د هغه د وژل کيدو چانس نهه نوي سلنه وه.

د لياقت علي د وژنې په قضيه کې د سکاټلينډ يارډ کريمينالستيکي پلاوی پلټنې

کله چې پاکستاني جنايي پوليس د لياقت علي د وژنې په پلټنه کې پاتې راغل، د پاکستان د وخت وزيراعظم محمد علي بوګره د انګريزانو له حکومت څخه غوښتنه وکړه، څو په نړيوال کچ پيژندلي شوې تر ټولو وتلې نوموتې تجربه لرونکي جرم پيژندونکي د کريمينالېستيک مامورين د انګريزانو سکاټلينډ يارډ د دې وژنې د پلټنو لپاره يو پلاوي راولېږي، د سکاټلينډيارډ د کريمينالستيکي پلټنو او څېړنو هم د سيد اکبر خان ببرک زی د وژنې علت او انګېزه ثابته نه شواى کړه. دې کريمينالستيکي پلټونکي پلاوي دا سياسي وژنه د سيمو هيوادونو د سازشونو او لاسوهنو د پلان شوي سياسي دسيسو سره، د سيمه ييزو سياسي اړيکو د نا خوښۍ سره تړاو نه درلودل تائيدل کړل. همداراز د همدې پلټونکي پلاوی لخوا دا وژنه د افغانستان شاهي دولت له لوري يوه سياسي پلان شوی وژنه ونه پيژندل شوه او د دې سياسي وژنې پلان نه په کابل کې او نه په کراچي کې طرح شوي وه. هيڅچا سيد اکبر دې سياسي وژنې ته د پيسو اخيستلو په بدل کې نه دی لمسولي. اصلاً سيد اکبر ببرک زی د پاکستان د ډيورنډ کرښې سياست سر سخته مخالف وه.

د انګلستان حکومت د سکاټلينډيارډ د استخباراتو يو تجربه کاره ماهر افسر مسترسی ډيليو پورين په نامه خپلې اوو مياشتنيو پلټنو سر ته ورسولې او په خپل تحقيقاتي راپور کې ۱۶/۰۶/۱۹۹۵ نېټه ليکي: دغه راپور د پاکستان د کورنيو چارو وزير جنرال سکندر ميرزا ته هم وړاندې کړل شوي دی. دغه څېړنيزه راپور ۶۶ پاڼو او شپاړلسو څېرکي کې ليکلې شوي دی. چې په کې راغلي دي: دغه ترور د سيد اکبر خان ببرک زی ځدرانِ خپل ذاتي او شخصي کار و، د چا لاس او لمسون په کې نه شته او کومې پيسې چې د سيد اکبر خان په کور کې موجودې وې، هغه ټولې د ده شخصي ملکيت و، ځکه هغه ته د انګريزانو له خوا هر مياشت ۴۵۰ کلداري معاش مقرر و. کله چې ښاعلي پورين د ده ټوله شتمني مالومه کړه، په پای کې دې نتيجې ته ورسيد، چې د ده په کور کې موجوده شتمني د هغو پيسو يوه کوچنۍ برخه وه، چې د ده کورنۍ به هره مياشت سپمولې او نورې به يې په مصرف رسولې، خو د پاکستان حکومت په دې ټېنګار کاوه، چې سيد اکبر خان ببرک زی ځدرانِ دغه ترور د پيسو په بدل کې کړی دی، چې ښاغلی پورين په خپل راپور کې د پاکستان دغه ادعا رد کړې ده، ځکه هغه ته مالومه شوه، چې دغه کار سيد اکبرخان له خپل دين او خپل وطن سره د بې کچې مينې پر بنسټ تر سره کړی دی.

دا قتل د سيد اکبر خان خپل ذاتي او انفرادي عمل وپيژندل شو، د قتل انګيزه،علت او اسباب د افغانستان په کورنيو چارو کې د لياقت علي لاسوهنه ښودلې شوي. ځکه د پاکستان حکومت له سيد اکبر خان څخه دا غوښتنه کړې وه، څو د هغې پلان مشري په غاړه واخلي، کوم چې د افغانستان په وړاندې د جګړې خبرې په کې شاملې وې .همداراز د کشمير په جګړه کې د ځښتو ډيرو پښتنو وژل کيدو سره هم تړاو درلودلې شي.

پايلې:

د نهو شپيتو کلونو راهيسې د پاکستان په تاريخ کې د لياقت علی د وژنې په اړه دوروغجني، تيوريکي دسيسې، له مبالغې او فنټزېو ډکې ليکنې، پوروپاګنډونه او بحثونه روان دي.

د لياقت علي د قتل څېړولو او پلټنو په قضيه کې د پاکستان جنايي کميسيون او د انګلينډ سکاټلنډ يارډ کريمينالستيک متخصصين او استخباراتي چارواکي په دې نه دي توانيدلي، څو د وژنې په دې قضيه کې د افغانستان او امريکا حکومتونو لاس لرلو ثبوت وړاندې کړو او نه د نومورو حکومتونو څخه په دې اړه د پوښتنو ګروېژنو جرات درلود. لکه څنګه چې پاکستاني ليکوال او رسنۍ ادعا لري، ګڼې لياقت علی د امريکايي سياست د نه تعقيبولو له امله وژل شوي دی.همداراز د لياقت علي وژنه د متحده ايالاتو او پاکستان ترمنځ د کشمير پټ تړون د لغوه کيدلو سره هيڅ تړاو نه لري.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د صدراعظم لياقت علي د وژني په اړه د پاکستان دورغجني رسنۍ په خپله خوښه له حقايقو تېښې د سازشونو ډول ډول تيورګاني جوړې کړي دي، کله ليکي؛ د لياقت علی د وژني قضيې په اړه د پلټنې ټول مهم سندونه او حقايق د الوتکې د لويدو له امله سوځيدلي دي. بيا وايي د لياقت علي د قتل دوسيې اړوند ټولې دسيسې او سازشونه يې څېړلي او پلټلي دي.

لنډه دا چې د لياقت علي د قتل څېړنې لپاره جوړ شوي کميسيون په ټوليزه توګه هيڅ راز شواهد او ثبوتونه نه دي وړاندې کړي، چې تيرينه د وژني اصلي علت او انګيزه ثابته شي. د ټولو بيانونو او شواهدو د څېړلو ورسته د قتل پېښې د تفتيش کميسيون دري احتمالي تيروتنې په ګوته کړي دي، د دريو علتونو څخه دوه يې توطېې د ملي ګټو خلاف نه دي اعلان کړي، دريم دليل د سيد اکبر خان د خپلو ذاتي افکارو څخه د قتل علت او انګيزه رازيرېدلي ښودلي شوي ده. د تفتيش کميسيون دري نورې پوښتنې هم راپورته کوي، ايا د سيد اکبر رواني توازن نه لرلو، ايا لومړي وزير د کشمير د مذهبي تعصب پاليسي له امله يا د افراطيت ضد پاليسو له امله وژل شوی دی. دا پوښتنې ټولې پاس ځواب شوي دي.

د راډيو پاکستان مسوولين بايد په خپل ارشيف کي هغه په ژوندۍ بڼه ثبت شوي او پټه ساتل شوي خپرونه کومه چې په ۱۹۵۱ کال کي د اکتوبر په شپاړلسمه نيټه د راولپېنډۍ په کمپنۍ باغ کي صدراعظم لياقت علي په ژوندي بڼه د ګوستاخي مهمه وينا کوله دوی ثبت کړي ده او خپل ارشيف کي پټه ساتلي ده. اوس راوباسي، څو د لياقت علي د قتل انګيزه او علت سم مالوم شي.

د شپږ پنځوس کلن لومړنی وزير اعظم لياقت علی د وژني څخه پوره نهه شپېته کاله تيرشوي دي، خو تر دې دمه عام خلک په ځانګړي توګه پاکستانيان د دې سياسي وژني د انګيزو په هکله بې خبره ساتل شوي يا بې خبر پاتې شوي دي.

د پاکستان په تاريخ کي د لياقت علی د وژني انګيزې سياسي سازشونو، توطېو، فنټزيو او معماو ډکه يوه دورغجنه پېښه ده. د پاکستان صدراعظم د وژني قضيه د پاکستان له واکدارنو څخه، سياسي مشرانو ته، له سياستوالو څخه بيا د بڼه سمبالښت لپاره حکومتي چارواکو لاس ته ورلويږي، بيا د لياقت علي د وژني قضيه پلټنو دنده مرکزي پوليسو ته ورسپارل کيږي، بيا د هغو پوليسو الوتکه سقوط کوي، کومو چې پلټنه کړي ده او هغه ټول په کې مړه کيږي او په پايله کې ټول کاغذونه، شواهد او سندونه وسوځول شوی اعلان کيږي. پاکستان د مرمزو سياسي قتلونو هيواد دی. په همدې لياقت باغ کي د ميرمن بې نظير بوټو مرمز قتل يادونه هم کولې شو. يوه خبرې دې پنجابي ليکوال په ښکاره واړي، چې انګريز لياقت علی خان نه د متحده ايالاتو حکومت او نه د افغان شاهی دولت له لورې وژلې دی.

د دې سياسي جنايي قضيې مهم اصلي علت او انګيزه د اتل سيد اکبر خان ببرک زی د خپل ګران وطن سره مينه او د خپل اتل ولس په ننګ او غيرت دريدولو سره تړاو لري. دا د هغه د پښتنې ننګ او افغاني غيرت له انګيزه سره تړاو لري، دا هغه څه دي چې تر اوسه چا پاکستانيانو ته سم نه دی روښانه کړي.

ټول ريښتېنې پښتانه افغانان بايد د دې سياسي وژني حقايقو ته په کتو سره د دې قضيې له اصلي انګېزو خبر شي، چې دا سياسي وژنه د يوه غيرتمن مېړني پښتون افغان د بېړني غبرګون د هغه هيواد پالنې او ماتپالنې سره تړاو درلود.

تر ټولو ورستی پوښتنه، ايا سيد اکبر ببرک زی په ريښتيا په خپله د لياقت علی د وژلو پريکړه د خپل پښتني افغاني ننګ او غيرت په دايره کي کړي وه ؟ د دې پوښتنې ځواب هو دی. دا وژنه سيد اکبر د خپلې ژورې هيواد پالنې او ملتپالنې احساس په چوکاټ کي د هغه يو انفرادي يا فردي عمل وه. هو، د پاکستان صدراعظم لياقت علی د خپلې بد رد ويونکي او ګوستاخي خولې او د افغان ولس د سپکاوي او توهينولو پاليسيو له امله ووژلې شوي دی.

پای

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ